# مسیر

ورځپانه

www.maseerdaily.af

نوی لید، نوی مزل

دوشنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې اتمه | د ۲۰۱۹ د جنوري ۲۸مه | دویم کال| ۳۲۵مه گڼه


## هېواد

۴ مخ

### توگو

د دغه هېواد ٦٨ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ٣٣ سلنه صادرات او ۵۰ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدغه سکټور څخه لاسته راځي.



### په کندوز کې د بنېوالو لپاره د ممیزو ۳۵ عصري او معیاري خونې جوړې شوې دي



په شمال ختیځ زون کې د کرنې، اوبو لگولو او مالدارۍ وزارت د بڼوالۍ او مالدارۍ د ملي پروژې مسوول ملا محمد غلام ملاخېل پرون ازادي راډیو ته ویلي، دوی د دې پروژې له لارې د کندوز په مرکز او ځینو ولسوالیو، لکه: خان اباد، چهار درې، گل تپې او امام صاحب کې د انگورو بڼوالو لپاره د ممیزو ۳۵ عصري او معیاري خونې جوړې کړې دي.

د نوموړي زیاته کړې، دا خونې د ۱۵ میلیونو افغانیو په مالي لگښت جوړې شوې دي چې هره یوه یې په یو وخت د ۱۴ ټنه انگورو د وچولو وړتیا لري.

د کندوز د مرکز او یادو ولسوالیو بزگران، د حکومت له یاد اقدام څخه هرکلی کوي او وایي، که یې حکومت حاصلاتو ته په وخت بازار پیداکړي یا د خرابېدو په مخنیوي کې ورسره مرسته وکړي، د دوی حاصلات به نور هم ورسره زیات شي.

# راتلونکې میاشت له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو وتل پیلېږي




د سولې پر وړاندې لوی خنډونه لرې شوي؟

۲ مخ

پټه وزگارتیا څه ده؟

۲ مخ

که ارمنستان ته په سفر ولاړئ، نو څه باید وکړئ؟

۳ مخ



## دریځ

# د سولې پر وړاندې لوی خنډونه لرې شوي؟

په قطر کې د طالبانو او امریکایي استازو ترمنځ د ځواکونو د وتلو په تړاو له موافقې وروسته اوس د امریکا د بهرنیو چارو وزیر هم ویلي چې امریکا د ځواکونو په وتلو کې جدي ده. مایک پامپیو پر ټویټر لیکلي: «امریکا د افغانستان د سولې او له دغه هېواده د ځواکونو ایستلو په اړه جدي ده، چې دا هېواد یوځل بیا د نړیوالو ترهګرو ځاله ونه ګرځي». نوموړي دغه راز ویلي چې له افغان حکومت او ټولو اړوندو غاړو سره په ګډه د یوه با ثباته، خپلواک او هوسا افغانستان لپاره کار کوي. تر دې وړاندې زلمي خلیلزاد هم ویلي وو چې د قطر په وروستیو خبرو کې مهم پرمختګونه شوي دي.

د قطر وروستۍ خبرې د امریکا او طالبانو دواړو له اړخه مثبتې ارزول کېږي او دواړه لوري د خبرو پر دوام ټینګار کوي. د مهمو پرمختګونو په اړه ډېر جزیات نه ورکول کېږي، خو خنډونه یې د خلیلزاد او طالبانو په څرګندونو کې په روښانه ډول لیدل کېدای شي. یو لوی او مهم خنډ دا دی چې امریکا د طالبانو او حکومت ترمنځ په خبرو ټینګار کوي او طالبان بیا بیا له حکومت سره خبرې او په دې اړه هر ډول توافق ردوي. خلیلزاد پر خپله ټوېټر پاڼه لیکلي: «د وروستۍ هوکړې لپاره اړینه ده چې د افغانانو ترمنځ مخامخ خبرې وشي او اوربند اعلان شي.» خو طالبانو بیا په اعلامیه کې ویلي، له افغان حکومت سره د دوی د مخامخ خبرو او د اوربند په اړه خپاره شوي رپوټونه ناسم دي. له دې روښانه معلومېږي چې په دې چاره کې اختلاف دی او دغه راز ښکاري چې د اوربند په تړاو هم د دواړو اړخونو ترمنځ توافق نشته.

د امریکایي ځواکونو د وتلو په تړاو هم ستونزې شته. امریکا منې چې ځواکونه به یې وباسي، خو دا چې د ځواکونو څومره برخه به پاتې کېږي او که څنګه، په دې اړه توافق نشته. دغه راز د ځواکونو د وتلو پر مهالوېش او څرنګوالي هم اختلاف شته او دواړه لوري د وتلو لپاره بېلابېل مهالوېشونه لري. که څه هم ویل شوي چې د نیمایي ځواکونو وتل به په راتلونکو اونیو کې پیل شي، خو دا د سولې له خبرو سره نه، بلکې د ټرمپ له هغې تګلارې سره تړلي دي چې غواړي خپل ځواکونه له نورو هېوادونو را وباسي. دا د دې مانا نه ده چې ګواکې امریکا به خپل ټول سرتېري له افغانستانه وباسي.

د افغان سولې لاره ستونزمنه او پېچلې ده. ستر او سخت اختلافات په مخ کې دي. امریکا په خپلې پیاوړې ډیپلوماسۍ سره غواړي خپل اهداف خوندي کړي، خو طالبان هم پر خپل دریځ کلک ولاړ دي او تنازل نه کوي. له همدې امله توافق سخت دی او داسې نه ښکاري چې ژر به توافق وکړي. د دومره اوږدې جګړې حل کول په طبیعي ډول هم ستونزمن وي او هم وخت اخلي. څه چې مهم دي، هغه دا چې حوصله پکار ده، د سولې د خبرو ملاتړ باید وشي او هڅه وشي چې په دې چاره کې افغانان او افغانستان زیان ونه کړي. همدا باید د هر افغان او افغاني لوري هڅه وي.

# پټه وزګارتیا څه ده؟

لیکنه: محمدتمیم رحیمزی

نن- سبا د وزګارتیا بېلابېل ډولونه شته، یو له هغو ډولونو چې په یو ډول نه یو ډول له هغې ډېره ناوړه ګټه اخیستل کېږي، پټه وزګارتیا ده. په دې اړه د اړوندو چارو د پوهانو له خوا ډېرې څېړنې شوې او لا هم روانې دي؛ ځکه دا د وزګارتیا یو ډېر خطرناک او مافیایي ډول ګڼل کېږي. پیل به یې پر خپله له وزګارتیا وکړو:

**وزګارتیا څه شی ده؟**

هغه کس چې په ټولنه کې د کار کولو ځواک لري؛ خو کاري فرصت نه شي موندلی، وزګارتیا یا وزګارتیا بلل کېږي. وزګارتیا یوه ټولنیزه ستونزه بلل کېږي او د ټولنې پر مېشتو کسانو ناوړه اغېزې لري. زده کوونکي، معلولین، زاړه، متقاعد او د موقتي دندې درلودونکي؛ د وزګارو کسانو په ډله کې نه راځي.

**د وزګارۍ ډولونه:**

۱. جوړښتي وزګاري
۲. اصطکاکي وزګاري
۳. طبیعي وزګاري
۴. سیمه ییزه وزګاري
۵. موسمي وزګاري
۶. د لوړې وزګاري
۷. ښکاره وزګاري
۸. پټه وزګاري

**۱- جوړښتي وزګاري:** د وزګارۍ دا ډول د هېواد د اقتصاد په اوسنیو فعالیتونو کې د ځینو برخو د ودې له امله منځته راځي او دا د مهارتونو د څرنګوالي په ټاکنه اغېز کوي.

**۲- اصطکاکي وزګاري:** د وزګارۍ دا ډول په سیمو او بېلابېلو دندو کې د کارکوونکو ترمنځ د شته غورځنګ او خوځښتونو او په ملي اقتصاد کې د بدلونونو له امله رامنځته کېږي.

**۳- طبیعي وزګاري:** د مهارتونو د عرضې (وړاندې کولو) او تقاضا (غوښتنې) ترمنځ باید انډول ساتل شوی وي.

**۴- سیمه ییزه وزګاري:** په دې ډول وزګارۍ کې اقتصادي وضعیت د صنعتونو او قلمروونو په ځینو برخو کې د خطر کرښې ته نږدې وي.

**۵- موسمي وزګاري:** د موسمي وزګارۍ ځینې اقتصادي فعالیتونه په دې ډله کې شاملېږي. لکه: کرنه، جوړونه، سیاحت او داسې نور.

**٦- د لوړې وزګاري:** هغه کسان چې د پانګونې لپاره کافي پیسې نه لري، له دې ډول وزګارۍ سره لاس او ګرېوان دي.

**۷- ښکاره وزګاري:** دا د وزګارۍ هغه ډول دی چې خلک نه شي کولای له خپلو شرایطو او تخصص سره سم دنده ترلاسه کړي.

**۸- پټه وزګاري:** د کمزورو کسانو ګومارنه، که څه هم دوی ته ګټه نه لري او دا ډول د رفتاري وزګارۍ په نامه هم یادېږي.

داسې شرطونه هم شته چې د هغې له مخې کولای شو ووایو چې پلانی کس د وزګارانو له ډلې سره نښتی چې په لاندې ډول دي:

- که چېرې د کار د ترسره کولو ځواک ولري
- که چېرې د کار په لټه کې وي، خو کار ورته پیدا نه شي.

**د وزګارتیا لاملونه:**

۱. له کلي، ښار ته کډوالي
۲. په تولید او پراختیا کې زیان او د مالي سرچینو نشتون
۳. د زده کړې او لوست کچه
۴. د ځینو لاسي کارونو ښه نه ښکارېدل، لکه د سړک غاړې خرڅلاو
۵. د کار له بازار سره د ښوونیزو مرکزونو د اړیکو نشتون
٦. له نړیوال صندوق او خصوصي کولو څخه د کارګرانو د چوپړتیاوو له ځینو برخو د دولت ډډه کول
۷. د هېواد د ملي اقتصاد په جوړښت کې بې نظمي
۸. په ځینو ځایونو کې د بېلابېلو خلکو ترمنځ د جنسیت او قومیت غوره والی
۹. د کورني تولید په پرتله د نفوس د ودې زیاتوالی
۱۰. له هېواده بهر کار او سوداګري
۱۱. د زېرمو د جوړښتي برخو ډېرښت

**پټه وزګارتیا**

هغه کس چې پر دنده بوخت دی او د عاید زېرمه هم لري، خو کار یې د هېواد په اقتصاد کې مثبته اغېره نه لري، پټه وزګارتیا نومېږي.

د وزګارتیا او پټې وزګارۍ ترمنځ توپیر همدا دی چې وزګارتیا د دندې نه درلودل دي؛ پټه وزګارتیا بیا د دندې درلودل، خو د هېواد په اقتصاد کې مثبت رول نه لوبول دي.

د دې ترڅنګ، کله چې یو کار کوونکی په یوه سازمان (بنسټ) کې په قراردادي ډول پر دنده بوخت وي، د سازمان له اصولو سره په پوره ډول بلدتیا ولري؛ په خپلو اړونده چارو کې د لوړې پوهې خاوند وي، د دفتر اخلاقي اصول یې زده وي؛ خو کله چې د هغه کس لپاره مناسب بست خالي شي او د بشري سرچینو له خوا بیا یاد بست د ځینو بوروکراسیو او جوړجاړي له امله بل چا ته ورکړل شي؛ پټه وزګارتیا یادېږي او دا یې ډېره خطرناکه او ناوړه بېلګه ده، چې سازماني جوړښتونه له منځه وړي او کاري اړخ کمزوری کوي.

له دې سره، بشري سرچینې د پټې وزګارۍ د رامنځته کولو لپاره له بلې لارې هم ګټنه کوي او هغه دا ده، چې د دندې کړنلاره (لایحه وظایف) د پخوا په پرتله بدلوي او مشرتابه ته د یوه مکتوب له مخې د یاد کس د دندې مؤثریت صفر ښیي او په دې اساس خپلې موخې په یاد بست او سازمان کې پلې کوي.

ځینې وخت وزګارتیا ښکاره او روښانه بڼه لري چې دې ډول بېکارۍ ته پټه وزګارتیا ویل کېږي. پټه وزګارتیا یوه نامطلوبه وزګارتیا ده چې په هغو کې غوځوالی (قطع) نه تر سترګو کېږي، بلکې لومړی کاري ځواک د تولید په برخه کې د فعالیت پر ځای په واسطه کولو، دلالۍ او خدماتي چوپړتیاوو ځان بوختوي او وروسته بیا کار کوونکي ډېری په هغو برخو کې پر دندو ګومارل کېږي چې په هغې ډله کې د کار کوونکو شمېر د چارو په پرتله ډېر وي او هر څوک ځان د کم کارۍ په هېنداره کې احساسوي.

نو په دې اساس د پټې وزګارۍ په تعریف کې ویل کېږي، چې له هغو فعالو او بوختو کسانو څخه عبارت ده چې په عملي ډول د تولید یا پرمختګ په برخه کې نقش نه لري او د هغې په لرې کولو سره د کار لړۍ ته کوم زیان هم نه اوړي.

دا ډول وزګارتیا د صنعت په برخه کې لږ تر سترګو کېږي؛ خو د کرهنې (کورنۍ نه تولیدوونکي او وړې برخې) په خوا کې چې د کلیو او بانډو د مېشتو د پیدایښت له امله لږ تولید او مصرف لري او ترڅنګ یې د خوره مه مره اقتصاد؛ ترڅنګ یې د خدمتونو په برخه کې (کار کوونکي، د سپکو شیزونو خرڅلاو او هغه کسان چې کالي لاس په لاس ګرځوي) د سړک غاړې د لاسي شیزونو د پلورونکو ډېرښت، هغه بوخت کسان چې لږ ځواب وینه لري، اداري کار کوونکي او داسې نورو برخو کې ډېره رامنځته کېږي.

هغو ټکو ته په کتو چې وویل شول، دا ډول وزګارتیا د کم عاید لرونکو کسانو په ژوند کې، د قومي او توکمي وړو ټولنو، د غیر ماهره خلکو، د هغو سیمو د مېشتو ترمنځ چې له رکود سره مخ دي، کلي مېشتي او ... تر منځ ډېره دود لري.

په ټوله کې وزګارتیا او پټه وزګارتیا د لاندې ټکو لامل کېږي:

الف) د ټولنیزې پانګونې (انساني ځواک) په پوخوالي (ثمر) نه رسېدل، چې د زده کړې او روزنې له لارې ترسره کېږي.

ب) د دولت مالیاتي عاید ته زیان رسېدل.

ج) د بېکارۍ د ښه والي د خرڅونو د تامین ډېرېدل چې ټولنیزې نېکمرغۍ له خطر سره مخ کوي.

اوسمهال ورځ تر بلې د صنعت برخه او د لویو تولیدي واحدونو رامنځته کېدل، د پراختیا په حال کې دي، ځینې پوهان داسې انګېرې چې د صنعتي تولید په منځپانګه او په ځانګړې توګه د صنایعو د خپل سره کېدو او د چوپړتیاوو د لمنې پراخېدو، د بېکارۍ د کچې د زیاتوالي او په ځانګړې توګه د پټې وزګارتیا لامل کېږي چې په ټوله کې بشپړه بوختیا او کاري چاپېریال رامنځته کېدل محالي بڼه ځانته غوره کوي.

## د سولې عالي شورا: د قطر وروستۍ ناستې موخه بین الافغاني خبرو ته زمینه برابرول وو

د سولې عالي شورا وایي، هغه څه چې تردې دمه د امریکایي پلاوي او طالب استازو ترمنځ شوي دي، موخه یې دا وه چې بین‌الافغاني خبرو اترو ته زمینه برابره کړي.

د دې شورا مرستیال عطاالرحمن سلیم ازادي راډیو ته ویلي چې د خلیلزاد له لوري شوې هڅې چې موخه یې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ خبرو اترو ته زمینه برابرول دي، د ستاینې وړ دي.

نوموړي ویلي، د سولې په مسئله کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ خبرې یوه اساسي او حتمي موضوع ده.

سلیم زیاته کړې: «ښاغلی خلیلزاد به د سولې په برخه کې وروستي پرمختګونه د ملي یووالي د حکومت له مشرانو، د سولې له عالي شورا او همدا شان له سیاسي څېرو سره شریک کړي. نوموړی هڅه کوي چې بین‌الافغاني خبرو ته زمینه سازي وکړي، هغه موضوع چې موږ ته مهمه ده، هغه دا ده چې بالاخره افغانان په خپلو کې سره کېني، د بحث وړ مسایلو باندې بحث وکړي او یوې نتیجې ته ورسېږي.»

بل لور ته طالبانو رویټرز خبري اژانس ته ویلي چې دوی له امریکایي پلاوي سره په قطر کې د سولې پر یوې مسودې موافقه کړې چې له مخې به یې په ۱۸ میاشتو کې بهرني ځواکونه له افغانستانه وځي، خو خلیلزاد پر خپل ټوېټر لیکلي، څو چې پر ټولو شیانو توافق نه وي شوی، پر هېڅ شي به موافقه ونه شي. هر څه باید د افغانانو د خپلمنځي خبرو په ترڅ کې وشي او پراخ اوربند ټینګ شي.

په همدې حال کې د ولسي جرګې د نړیوالو اړیکو د کمېسیون مرستیال محمد داوود کلکاني که څه هم د سولې په برخه کې وروستۍ هلې ځلې مثبتې بللې، خو ویلي یې دي چې سولې ته رسېدل د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ په مستقیمو خبرو اترو پورې تړلي دي.

نوموړي زیاته کړې: «باید له طالبانو سره مذاکرات د افغان حکومت له خوا پیل شي او امریکا باید د یو څارونکي او ضمانت کوونکي په توګه په خبرو کې حاضر وي، که سوله د افغان حکومت، طالبانو او خلکو ترمنځ ونه شي او له امریکا سره وشي، نو یو وار بیا به کورنیو جګړو ته لاره هواره شي.»

## کرنې وزارت: افغانستان به راتلونکی کال هم له سختې وچکالۍ سره مخ وي

د کرنې او مالدارۍ وزارت په راتلونکي کال کې د سختې وچکالۍ خبرداری ورکوي.

د دغه وزارت چارواکي وایي چې روان کال وچکالۍ پر کرنې او مالدارۍ ٦٦ سلنه ناوړه اغېزه کړې او د تېر کال په پرتله روان کال کمې غلې- دانې تولید شوې دي.

د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي له ازادي راډیو سره په خبرو کې که څه هم له وچکالۍ سره د مبارزې خبره کړې، خو ویلي یې دي چې دغه طبیعي ناوړه تاثیرات به راتلونکی کال هم ادامه پیدا کوي.

نوموړي زیاته کړې: «په هره کچه چې د واورو او باران اورښت کم شي، بیا هم هغه ستونزې چې مو په روان کال کې درلودې، راتلونکی کال به هم ورسره لاس او ګرېوان یو، خو طبیعي ده چې د نړیوالو سازمانونو او ډونرانو مرستې چې کېږي، له اوسني وضعیت سره به فوق العاده مرسته وکړي».

دا په داسې حال کې ده چې افغانستان د کرنې او مالدارۍ سکټور له درکه له اوو میلیاردو افغانیو زیات عواید لري چې لویه اقتصادي برخه جوړوي.

بلخوا د ناامنۍ ترڅنګ، وچکالي د دې لامل شوې چې شاوخوا ٦۰۰ زره افغانان خپلې مېنې پرېږدي او نورو ځایونو ته کډوال شي.

د کرنې او مالدارۍ وزارت ویلي چې روان کال یې له شاوخوا ۳٦ زرو زیانمنو کورنیو سره د ٦۹ میلیونو افغانیو په ارزښت د خوراکي او غیر خوراکي موادو مرسته کړې ده.

له دې وړاندې د ملګرو ملتونو له ماشومانو د ملاتړ ادارې یا «یونیسف» هم خبرداری ورکړی و چې افغانستان به راتلونکی کال هم له وچکالۍ سره مخ وي.

# راتلونکې میاشت له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو وتل پیلېږي



د سولې د خبرو په لړ کې د بهرنیو ځواکونو د وتلو مسئله توده شوې ده. د سولې لپاره د طالبانو تر ټولو مهم شرط دا دی چې بهرني ځواکونه به له افغانستانه وځي او تر هغه وروسته به د نورو مسایلو په اړه مذاکراتو ته ادامه ورکوي. وسله والو طالبانو ته نږدې کسان او سرچینې وايي چې د دوحې په شپږ ورځنیو مذاکراتو کې د بهرنیو ځواکونو پر وتلو هوکړه شوې ده. د سرچینو په خبره، امریکا منلې چې بهرني ځواکونه به له افغانستانه وځي او په دې توګه به د سولې په برخه کې نورو پرمختګونو ته لار هوارېږي.

طالبانو ته نږدې کس او پخواني طالب چارواکي سید اکبر اغا په خپله وروستۍ مرکه کې ویلي، امریکایانو منلې چې خپل ځواکونه به له افغانستانه وباسي. د ده په خبره، راتلونکې میاشت د امریکایي او نورو بهرنیو ځواکونو تدریجي وتل پیلېږي او په دې توګه به اوربند او د سولې په برخه کې اړوندو نورو بحثونو ته لار پرانیستل شي. اکبر اغا زیاته کړې: «امریکا منلې چې ځواکونه به یې له افغانستانه وباسي. په راتلونکې میلادي میاشت (فبرورۍ) کې به د بهرنیو ځواکونو د وتلو بهیر پیل شي. د همدې فبرورۍ میاشتې په ۲۵مه نېټه به بیا د امریکایانو او طالبانو ترمنځ د خبرو بل پړاو پیلېږي چې په هغه کې به پر اوربند هم خبرې کېږي.»

سید اکبر اغا وايي، کله چې د راتلونکې میلادي میاشتې په پیل کې د بهرنیو ځواکونو د وتلو بهیر پیلېږي، نو دا پروسه به د طالبانو او امریکا د یوه ګډ پلاوي له لوري څارل کېږي. د نوموړي په خبره، په دې پروسه کې پرمختګ او صداقت د دې سبب کېدای شي چې طالبان د فبرورۍ میاشتې د پنځه ویشتمې په غونډه کې اوربند ته غاړه کېږدي او د مذاکراتو بل پړاو پیل کړي.

په ورته وخت کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر هم د خپلو ځواکونو د وتلو په اړه څرګندونې کړې دي. هغه تېره ورځ له دوحې د زلمي خلیلزاد تر وتلو وروسته په یوه ټویټ کې لیکلي وو، چې دوی له افغانستانه د خپلو ځواکونو وتلو ته ژمن دي. د مایک پامپیو په خبره امریکا نه غواړي چې سرتېري یې په یوه اوږده جګړه کې ښکېل وي، نو ځکه دا هڅه کوي چې په افغانستان کې روانه جګړه د خبرو پر مټ حل کړي او په دغه هېواد کې یو قوي حکومت رامنځته کړي. پامپیو ویلي چې دوی په افغانستان کې یو خپلواک، پیاوړی او مستقل حکومت غواړي، نو له همدې امله دا ژمنه کوي چې امریکا د افغانانو ترڅنګ ولاړه ده. مایک پامپیو د سولې د خبرو په اړه هم هیله مندي ښودلې وه. ده ویلي: «زلمي خلیلزاد ښه خبرونه راکړي دي. د افغانستان د سولې خبرې له لاس ته راوړنو ډکې دي. دا هیله شته چې روانه جګړه د خبرو له لارې حل شي».

بل لور ته پاکستان بیا وايي چې دوی د افغانستان د سولې په برخه کې نه ستړې کېدونکې هڅې کړې دي. د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر محمود قریشي تېره ورځ په یوه غونډه کې رسنیو ته ویلي چې د افغانستان د سولې خبرې دومره اسانه نه وې، نو پاکستان د دغه خبرو په اسانتیا کې نه ستړې کېدونکې هڅې کړې دي. قریشي ویلي، اسلام اباد په افغانستان کې د سولې خبرو ته ژمن دی او په دې برخه کې به خپلې همکارۍ نه سپموي.

د افغان سولې په اړه داسې مهال دغه څرګندونې کېږي چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی له دوحې کابل ته راغلی دی. ده ویلي، تر هغه چې له افغان حکومت سره د مخامخ خبرو په اړه هوکړه ونه شي، نو هېڅ هوکړه نه ده شوې. دده په خبره، یا باید پر ټولو مواردو هوکړه وشي او یا هېڅ هوکړه نه کېږي. هغه دا نه دي ویلي چې ټول موارد څه دي، خو طالبان بیا وايي چې مهمې غوښتنې یې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو وتل، د طالب زندانیانو خوشي کول، له تور لېسته د طالب مشرانو ایستل، د امریکا او نورو هېوادونو پر ضد د افغان خاورې نه کارېدل او د طالبانو دفتر په رسمیت پېژندل شامل دي. امریکا بیا ټینګار کوي چې طالبان باید له افغان حکومت سره مخامخ خبرې وکړي او روانه جګړه د بین الافغاني مذاکراتو پر مټ حل کړي.

## اتمر: د افغان سولې په برخه کې د حکومت پر هڅو شکمن یو



د هېواد د ملي امنیت پخواني سلاکار او راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند محمدحنیف اتمر د سولې په برخه کې پر شویو پرمختګونو خوښي څرګنده کړې او ویلي یې دي، دوی په دې برخه کې د طالبانو او امریکا د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ترمنځ د روانو خبرو هرکلی کوي.

د نوموړي له دفتره په خپره شوې اعلامیه کې راغلي، هغه خبرې چې په همدې اړه د قطر په پلازمېنه کې پیل شوې وې، د وروستیو راپورونو له مخې پکې ښه پرمختګونه شوي دي او دوی یې کلک ملاتړ کوي.

سرچینې ویلي، سوله لومړیتوب دی او دوی په دې برخه کې له هرې هغې هڅې ملاتړ کوي چې هېواد سولې ته نږدې کوي. د سرچینې په خبره، دوی په دې برخه کې روانې هڅې په ټوله هیله‌مندۍ تعقیبوي.

سرچینې دغه راز ویلي، د افغان کشالې یوازینی حل بین الافغاني خبرې دي، خو په خبره یې په دې اړه د حکومت پر دریځ شکمن دي.

په اعلامیه کې وړاندې راغلي چې حکومت باید په دې برخه کې روانې هڅې په پوره جدیت وڅاري.

دوی دغه راز له طالبانو هم غوښتي چې له بین الافغاني خبرو ملاتړ وکړي او په رښتیا وښیي چې د هېواد ملي ګټې ورته مهمې دي.

د سرچینې په خبره، په هېواد کې سراسري سولې ته د رسېدو یوازینۍ لاره سیاسي اجماع ده او دوی د همدې اجماع د رامنځته کولو په موخه هر اړخیزې هڅې کوي.

## نشنل انټرسټ: افغانستان پر یوه وخت له څو لویو ستونزو سره مخ دی



نشنل انټرسټ نشریې ویلي، د افغان سولې خبرې پیل شوې دي، خو هممهاله په دغه هېواد کې جګړه خونړۍ شوې ده او ولسمشریزې ټاکنې هم نږدې دي. دې نشریې لیکلي، دا ټول موارد سره په ټکر کې دي او په افغانستان کې به یوه نوي بحران ته لار هواره کړي.

د یادې نشریې په خبره، د سولې د خبرو په منځ کې د افغانستان ډېر سیاسیون او سیاسي ګوندونه د ټاکنیزو کمپاینونو او نانډریو لپاره د یو بل په مقابل کې ولاړ دي، چې دا مسئله به د سولې هڅو ته زیان ورسوي او روانه جګړه به نوره هم اوږده کړي.

سرچینې دغه راز ویلي، طالبان هم پر دې پوهېږي چې افغان حکومت په خپلو کې کشمکشونه لري، ټاکنې نږدې دي، سیاسیون په ګروپونو وېشل شوي دي، نو ځکه له افغان حکومت سره خبرو ته زړه نه ښه کوي.

نشنل انټرسټ په داسې یوه ګډوډ حالت کې د بهرنیو ځواکونو د وتلو پرېکړه هم د جدي اندېښنې وړ بللې او په خبره یې د دې اړتیا ده چې روانې چارې په افغانستان کې په سمه توګه مدیریت شي.

په مطلب کې وړاندې راغلي، تر هغې چې راتلونکې ټاکنې، روانې جګړې، د سولې خبرې، د حکومت اوسنی وضعیت او په سیمه کې روان کشمکشونه په سمه توګه ونه ارزول شي او ټولو ته د حل احتمالي لارې پیدا نه شي، نو د دې امکان شته چې افغانستان له یوې بلې ستونزې سره مخ شي.




### په وینزویلا کې د کړکېچ په دوام؛

## پامپیو له ملګرو ملتونو غوښتي چې په دغه هېواد کې له نوي بدلون څخه ملاتړ وکړي

د امریکا د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر د ملګرو ملتونو له ټولو غړو هېوادونو غوښتي چې په وینزویلا کې د راغلي ډیموکراټیک بدلون ملاتړ وکړي.

پامپیو په نیویارک کې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا غونډې ته ویلي: «نن زه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پر ټولو غړو غږ کوم چې د وینزویلا د ډیموکراټیک تغیر ملاتړ وکړي او د موقت ولسمشر په توګه د خوان ګایدو ملاتړ وکړي».

نوموړي د نیکولاس مادورو په مشرۍ د وینزویلا حکومت یو مافیایي حکومت یاد کړی او ویلي یې دي چې دغه سوسیالستي حکومت، یاد هېواد له بېوزلۍ سره مخ کړی دی.

پامپیو له هغو هېوادونو چې د وینزویلا د اپوزېسیون ملاتړ کوي، غوښتي چې د مادورو له حکومت سره اقتصادي راکړه ورکړه بنده کړي.

هغه زیاته کړې: «اوس هغه وخت دی چې هر ملت باید خپله خوا معلومه کړي، نور باید ځنډ ونه کړي، نورې سیاسي لوبې ونه کړي، تاسو یا د ازادۍ له ځواکونو سره ودرېږئ یا له مادورو او ګډوډۍ سره».

بلخوا په ملګرو ملتونو کې د روسیې استازي، واسیلي نبېنزیا د امنیت شورا غونډې ته د خبرو پر مهال، په واشنګټن تور پورې کړی چې په وینزویلا کې د کودتاه ملاتړ کوي او دغه هېواد نړیوالې سولې او امنیت ته ګواښ نه دی پېښ کړی، نو باید منزوي هم نه شي.

د مادورو حکومت له واشنګټن سره ډیپلوماټیکې اړیکې قطع کړې دي او امریکایي ډیپلوماټانو ته یې ویلي دي چې ژر تر ژره دې له دغه هېواد څخه ووځي.

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا تر غونډې یوه ورځ وړاندې جرمني، فرانسې او اسپانیې ویلي وو چې که د اتو ورځو په ترڅ کې ټاکنې ونه شي، د خوان ګایدو موقت حکومت به په رسمیت وپېژني، خو د وینزویلا د بهرنیو چارو وزیر خورخي اریزا دغه وړاندیز رد کړی او ویلي یې دي چې اروپا دې موږ ته د ټاکنو لپاره وخت نه ټاکي.

## د کتــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◉ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◉ ژباړن: میـراحمد یـاد

### څلورم څپرکی
### لوی فکر به څنګه کوو؟




شرط چې برى وي، نو بيا خلک په متر، کيلو، زده کړو او کورنۍ نه اندازه کېږي، بلکې دا خلک د خپلو تمو له مخې ارزول کېږي. زموږ د تمو اندازه، زموږ د بري اندازه ټاکي، اوس به وګورو چې څنګه لوی فکر کولای شو!

تراوسه مو ځان پوښتلی چې (لوی ضعف مو څه شی دی؟) ښايي د انسان لوی ضعف خپل ځان ټيټ يا کم ګڼل وي. ځان کم ګڼل په بېلابېلو بڼو راڅرګندېږي. (احمد) په ورځپاڼه کې کاري خبرتيا ګوري، خو د ترلاسه کولو لپاره يې هېڅ اقدام نه کوي، ځکه وايي چې د دې دندې وړتيا ګټې نه لري. د (محمود) بيا (سيما) خوښېږي، غواړي واده ورسره وکړي، خو ورته ويلی نه شي، ځکه فکر کوي چې سويه يې تر ده لوړه ده. (سميع) بيا وايي چې (سليم) يې د توکو ښه پيرودونکی دی، خو اړيکه ورسره نه نيسي، ځکه وايي چې سليم ډېر شتمن دی، سويه يې لوړه ده، له ما به سودا و نه کړي. (خالد) بيا د دندې لپاره فورمه ډکوي، پوښتنه کېږي چې څومره معاش به غواړئ؟ خالد ټيټ معاش ليکي، که څه هم دی غواړي چې ډېرې پيسې ترلاسه کړي، خو زړه کې وايي چې د ډېرو ارزښت ګټې نه لري.

کلونه کېږي موږ د مشرانو دا خبره اورو چې (ځان وپېژنه) خو موږ وايو د دې خبرې مانا ګټې دا ده چې يوازې خپل منفي اړخونه وپېژنه. په دې خاطر موږ ته ځان پېژندنه د خپلو کمزوريو، نيمګړتياوو او ناوړتياوو ټولګه ګرځېدلې ده.

البته د نيمګړتياوو پېژندل هم ښه کار دی، ځکه موږ ته هغه برخې راښيي چې پرمختګ مو پکې لا نه دی کړی، خو که يوازې په همدې پسې ګرځو، نو له ستونزو سره مخ کېږو او ارزښت بايلو.

دلته يو تمرين درسره دا مرسته کوي چې خپلې وړتياوې وپېژنئ، ما دا تمرين د اجرائيوي مديرانو او خرڅلاو برخې له کارکوونکو سره کړی او ښه پايلې مې ترې لرلې دي.

الف. خپلې پنځه ښېګڼې وليکئ او په دې کار کې له يوه رښتيني ملګري مرسته هم وغواړئ، مثلاً د ژوند ملګری/ملګرې، رئيس، استاد، ټولګيوال ... يا بل هر څوک چې د موضوع په اړه رښتينی نظر درکړي. ما په هغه روزنيزه برنامه کې دا ښېګڼې يا امتيازات ذکر کړي وو:

- زده کړې
- فني مهارتونه
- څېره
- ښه کور او ژوند
- نظريات
- شخصيت
- نوښت

ب. اوس د هرې ښېګڼې لاندې د خپلو داسې دريو پېژندګلو کسانو نومونه وليکئ چې دا ښېګڼې يې نه لرلې، خو لوړ مقام ته رسېدلي دي.

دا کار مو چې وکړ، پوه به شئ چې ډېر بريالي خلک په ځينو برخو کې له تاسې وروسته دي.

دلته يوازې يوې منطقي پايلې ته رسېږو او تاسې بايد دا ومنئ چې: تاسې چې ځان څومره ګڼئ، تر هغه ډېر لوی يئ، نو خپل فکر لکه د خپل حقيقت ظرفيت هومره پراخه کړئ. هڅه وکړئ چې افکار مو د مقام په اندازه لوی وي! هېڅ وخت ... بيا هم وايم، هېڅ وخت ځان ټيټ مه بولئ.

ځينې خلک په خبرو کې ډېر سخت او ادبي لغتونه کاروي او موږ به يې په خبرو سخت پوهېږو، د هغه کس د لغتونو ذخيره ښايي پراخه وي، خو آيا فکر يې هم دومره پراخه دی؟ ښايي چې نه وي! کوم خلک چې سختې کليمې کاروي او خلک يې په خبرو زر او په اسانه نه پوهېږي، دا غږېدونکی کس په زياتره مواردو کې ځانغواړی او ځانښودونکی وي او عموماً يې د فکر کچه هم ټيټه وي.

په خبرو کې د پوهې مهم معيار يوازې د نااشنا لغتونو کارول نه دي، بلکې معيار دا دی چې د ده خبرې او فکربڼه (ذهنيت) يې په خلکو څه اغېز کوي؟

اصلي موضوع دا ده چې موږ د کليماتو او عباراتو په اساس فکر نه کوو، بلکې د تصويرونو او مفکورو په اساس فکر کوو. کليمې د فکرونو اومه مواد دي. فکر چې کومې کليمې اوري يا لولي، ذهني انځورونه ترې جوړوي. هره کليمه او عبارت په ذهن کې يو جلا انځور جوړوي. که څوک درته ووايي چې احمد دوه منزله کور واخيست، ستاسې په ذهن کې دستي يو تصوير راځي، خو که يې وويل چې احمد يوه نومره ځمکه واخيسته، نو په ذهن کې مو تصوير هم ورسره بدلېږي. موږ د شيانو د توصيف لپاره بېلابېل کليمات کاروو او دا زموږ ذهني تصويرونه بدلوي.

اوس د موضوع دې اړخ ته ځير شئ. تاسې چې ليکل کوئ يا غږېږئ، لکه د سينما ماشين د مقابل لوري د فکر په پرده يو فلم چالانوئ، هلته چې تاسې کوم تصويرونه ښيئ، هغه ستاسې او د نورو د غبرګون بڼه ټاکي. **دوام لري...**

# توګو

حشمت الله نوري

توګو د افريقا د لويې وچې په لوېديځه برخه کې د ختيځ طول البلدونو د صفر او منفي ۲ او د شمالي عرض البلدونو د ٦ او ۱۱ درجو ترمنځ موقعيت لري. د ۲۱۸۴۰ کيلومتره مربع پراخوالي له کبله د نړۍ ۱۱۳م لوی هېواد دی.

دغه هېواد شمال ته له بورکينافاسو، جنوب او ختيځ ته د بينين له خليج او لوېديځ ته له ګانا سره ګډه پوله لري. توګو تود- استوايي او لوند اقليم لري چې په شمالي او جنوبي برخو کې يې توپيرونه شته.

دغه هېواد د افريقا لويې وچې درېيم کوچنی هېواد چې د لوېديځې افريقا په جنوبي څنډه کې د اتلانتيک سمندر خواته موقعيت لري. دغه اوږد هېواد له شمال څخه جنوب ته ٦۰۰ کيلومتره اوږدوالی او له ختيځ څخه لوېديځ ته ٦۰ کيلومتره سور يا بر لري.

توګو استوا ته نږدې پروت دی، له همدې امله توده هوا لري او ډېره خاوره يې په ګڼو ځنګلونو پوښلې ده. د دغه هېواد پلازمېنه د لومه ښار دی او نږدې اته ميليونه نفوس لري چې په هرکيلومتر مربع سيمه کې يې ۱۲٦ کسان ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول عمر کې د پنځو ماشومانو د درلودو اجازه لري.

توګو د اداري وېش له پلوه په ۵ برخو وېشل شوی دی. سوکود، اتکاپام، تسويه، باسار، پاليمه، کارا او داپونګ يې مهم او لوی ښارونه دي.

د دغه هېواد ۹۹ سلنه وګړي تور اصله افريقايان او پاتې نور يې سوريايي او لبناني نژاده دي. د توګو رسمي ژبه فرانسوي او ليکدود يې لاتيني دی.

د دغه هېواد د حکومت ډول جمهوري دی او د نوي ولسواک اساسي قانون متن يې د ۱۹۹۲ ز کال د جولای په لومړۍ د جمهوريت د عالي شورا له خوا برابر او په ملي ټولپوښتنه کې تصويب شوی دی. د دغه هېواد اوسنی ولسمشر فاري ګناسينګبه او لومړي وزير يې کومي سيلويم دی. د توګو ولسمشر د خلکو په خوښه د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي او څو ځلې کار کولای شي. د دغه هېواد لومړی وزير د ولسمشر او د کابينې وزيران د لومړي وزير په وړانديز د ولسمشر له خوا ټاکل کېږي. د توګو ولسي جرګه ۸۱ غړي لري چې د خلکو په خوښه د ۵ کلونو لپاره ټاکل کېږي. په دغه هېواد کې رايه ورکول د ځوان قشر لپاره حتمي دي.

د دغه هېواد حقوقي نظام د فرانسې پر قوانينو ولاړ دی او د اساسي قانون محکمه، د عدالت عالي محکمه، د استيناف محکمه او ستره محکمه يې لوی او مهم قضايي ارګانونه دي.

د نوي کولو د عمل کمېټه، د افريقايي خلکو ولسواک ترون، د نوي کولو ولسواک ګوند، د توګو د خلکو لاريون ګوند او د بدلون د ځواکونو اتحاديه يې لوی او نفوذ لرونکي ګوندونه دي.

د ۱۹٦۰ ز کال د اپرېل په ۲۷مه د ملګرو ملتونو تر قيوميت لاندې يې له فرانسې څخه خپلواکي واخيسته او هر کال همدا ورځ د خپلواکۍ د ورځ په نوم پکې نمانځل کېږي.

توګو د ۱۹٦۰ د سپټمبر په ۲۰مه د ملګرو ملتونو غړيتوب ترلاسه کړ او د دې ترځنګ په نورو نړيوالو ټولنو کې هم شامل شو.

د توګو اقتصاد پر معيشتي او سوداګريزه کرنه ولاړدی چې ۷۰ سلنه خلکو ته يې د کار زمينه برابره کړې ده. قهوه او پنبه د توګو ۴۰ سلنه صادراتي عوايد جوړوي. پنبه په دې منځ کې خورا ډېره ارزښت لري. که کال نورمال وي، د دغه هېواد د کرنې حاصلات د خلکو کورنۍ اړتياوې پوره کولای شي. کله نا کله لرې پرتو سيمو ته د دغو خوراکي توکو په لېږد کې ستونزې جوړېږي.



د صنعت په برخه کې يې د فاسفيټو ايستل او پروسس د يادولو وړ دی. توګو په نړۍ کې د فاسفيټو له سترو صادروونکو هېوادونو څخه دی او دولت غواړي چې د فاسفيټو د مسلکي استخراج له لارې د هېواد ملي عوايد لوړ کړي. د دغه هېواد د دولت هغه لس کلنه هڅه چې د اقتصادي پرمختګ په نيت پيل شوې وه، د نړيوال بانک په مرسته بريالۍ شوه او ډېر بهرني پانګوال يې په توګو کې کار او پانګونې ته وهڅول. له ۲۰۰۵ ز کال را په دېخوا په توګو کې دولت خپلې لويې پروژې خصوصي سکټور ته پرېښودې، د دولت په ملي تګلارو کې قانونيت او اسانتياوې ډېرې شوې او په اداري برخه کې تشويقي اقدامات په پام کې ونيول شول. اوس دغه هېواد او نړيوال بانک دواړه هڅه کوي چې د اقتصاد د بنسټيزو پروژو د جوړولو لومړيتوب په پام کې ونيسي او د هېواد راتلونکې هر اړخيزې پرمختيا ته لار هواره کړي.

د توګو د عوايدو کچه ۷۴۰ ميليونه ډالرو او د لګښتونو کچه يې بيا ۸۸۰ ميليونه ډالرو ته رسېږي.

د دغه هېواد ۴۵ سلنه ځمکه د کرنې وړ ده، ۵ سلنه يې څړځايونو، ۱۹ سلنه يې ځنګلونو او پاتې نوره يې غرونو، غونډيو، بېدياوو، سيندونو، ښارونو او د استوګنې کليوالو سيمو نيولې ده. د دغه هېواد ٦۸ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۳۳ سلنه صادراتي عوايد او ۵۰ سلنه ناخالص کورني توليدات هم له دې همدغه سکټور څخه لاسته راځي.

قهوه، پنبه، وريجې، خرما، جوار، ږدن، کونځلې، لرګي، غوښه، لبنيات، هګۍ او وابښه د دغه هېود د کرنې او څارويو مهم محصولات بلل کېږي. المان، چين، بورکينافاسو، بينين، نايجيريا، ګانا، فرانسه، بلجيم، هند، امريکا، انګلستان او اندونيزيا يې لوی سوداګريز شريکان دي. توګو لس هوايي ډګرونه لري چې څلور يې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.

د دغه هېواد د ټليفون کوډ نمبر ۰۰۲۲۸ او د انټرنېټ کوډ نمبر يې ټي جي دی چې ټولټال ۵ لکه کسان يې انټرنېټ ته لاسرسی لري.

په توګو کې دولتي او خصوصي سکټور دواړه رسنۍ لري. خصوصي برخه يې ۱۰ټلوېزيونونه او ۴۰ راډيوګانې لري. په دغه هېواد کې صنفي اتحاديې او کليوالې شوراګانې هم ۱۵ راډيوګانې لري او د دې ترځنګ پکې ۱۰ ورځپاڼې او ۵۰ اونيزې او مجلې هم شته چې ۹۰ سلنه په سيمه ييزو فرانسوي او انګليسي ژبو خپرېږي.

توګو د ناخالص کورني توليد او سړي سر کلني عايد له مخې د افريقا او نړۍ له وروسته پاتې هېوادونو څخه شمېرل کېږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ٦۳ سلنه نارينه او ۷۷ سلنه ښځې په ليک او لوست پوهېږي. په دغه هېواد کې زده کړه له ٦- ۱۵ کلنو ماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره وړيا او جبري ده او هر هلک يا جنۍ په منځنۍ توګه لس کاله په درس کې تېروي چې د نړۍ په پرتله لږ، خو په افريقاکې مناسب رقم دی.

د ايوه نومي قبيلې خلک چې اوس د توګو په لوېديځو برخو کې ژوند کوي، د ۱۲ او ۱۴مو پېړيو په بهير کې له ګانا او نايجيريا څخه د نايجير د سيند د غاړو په لاره د توګو اوسنۍ خاورې ته لېږدېدلي او د اوسني توګو په جنوبي سيمو کې مېشت شوي دي. په همدې وخت کې د داګومبا قبيله د دغه هېواد پر شنو شمالي ځمکو باندې ځای پر ځای شوه او يوه کوچنۍ پاچايي يې جوړه کړه. همغه وخت ډېرو کانګويي سوداګرو هم دې خاورې ته رسېدلي وو، پرتګاليان هغه لومړني اروپايان وو چې دغه هېواد يې په ۱۴۸۱ ز کال کې وپېژانده. فرانسويانو ته په ۱٦۲۱ ز کال کې توګو يو له هغه لومړنيو هېوادونو څخه و چې پرتګالي، فرانسوي او اېټالوي سوداګرو پکې د مرييانو سوداګري پيل کړه. دې سوداګرۍ په دوو پېړيو کې دومره وده وکړه چې دغه سيمه نوره د مرييانو د ساحل په نامه ياده شوه. المان چې دغه پرېمانه ګټه وليده، په ۱۸۸٦ ز کال کې يې پر دې سيمه يرغل وکړ او توګو او ګانا د اوسني هېواد ځينې سيمې يې له نورو اروپايي سوداګرو څخه ونيولې.

په ۱۹۱۴ ز کال کې هغه وخت چې لومړۍ نړيواله جګړه روانه وه، فرانسوي او برېټانوي پوځونو په توګو کې مېشتو الماني پوځونو ته ماتې ورکړه او دغه خاوره يې ونيوه. دغو دوو هېوادونو څه موده وروسته، توګو په دوو فرانسوي او برېټانوي برخو ووېشله.

ملګرو ملتونو په ۱۹۴۷ ز کال کې د توګو پر ختيځو برخو باندې د فرانسې او د دغه هېواد په لوېديځو برخو د برېټانيا قيموميت په رسميت وپېژانده.

برېټانيا په ۱۹۵٦ ز کال کې د توګو لوېديځه برخه له ګانا سره چې هغه هم د دغه هېواد يوه مستعمره وه، يو ځای کړه. فرانسويانو ختيځې توګو ته کورواکي ورکړه او د توګو ملي خپلواکي غوښتونکي ګوند د دغه هېواد په اداره کې ونډه واخيسته. دغه ګوند په ۱۹۴۵ ز کال کې د سلوان اوليمپي په مشرۍ جوړ شوی و او د دغه هېواد د يووالي هڅه يې کوله. اوليمپي په ۱۹۵۸ ز کال کې د توګو د لومړي وزير په توګه وټاکل شو، له دې وروسته د دغه هېواد خلکو د خپلواکۍ غوښتنه وکړه. فرانسوي چارواکو چې نور يې دغه هېواد هم په ولکه کې نه شوای ساتلی، د ۱۹٦۰ ز کال د اپرېل په ۴مه، توګو ته بشپړه خپلواکي ورکړه. په همدغه کال کې په توګو کې جمهوري نظام رامنځته شو چې پخوانی لومړی وزير يې د اوليمپي د هېواد د لومړي ولسمشر په توګه د وفادارۍ لوړه وکړه او دغه هېواد د ملګرو ملتونو د ټولنې په غړيتوب ومنل شو.

ګناسينګبه د ۲۰۰۵ ز کال په فبرورۍ کې مړ شو، پوځيانو د ده زوی فاري ګيناسينګبه د ولسمشر په توګه اعلان کړ، نوی ولسمشر په دغو ټاکنو کې بريالي شو چې دوې مياشتې وروسته وشوې. د توګو د ۲۰۰۷ ز کال د اکتوبر ټاکنې ښې وې. د دغو ټاکنو په پايله کې فاري ګناسينګبه د خلکو رايې واخيستې، دا ټاکنې نسبتاً رڼې وې او درغلي پکې ونه شوه. له همدې امله دغه هېواد له څو کاله ګوښې توب څخه وروسته بېرته له نړيوالې ټولنې سره پخلا شو، توګو په ۲۰۱۲ ز کال کې د ملګرو ملتونو د امنيت شورا غړيتوب تر لاسه کړ.

د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت د ستراتېژيکو اړيکو په کتاب کې د توګو نوم نشته، نو له همدې کبله دغه دواړه هېوادونه خپلو کې هېڅ راز اړيکې نه لري. د کابل او لومه ښارونو ترمنځ د هوا له لارې فاصله ۷۳۵۲ کيلومتره مربع ده. دغه راز د دواړو ښارونو ترمنځ د وخت توپير هم درې نيم ساعته دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵،۱۰ |
| € | ۸۵،۷۰ |
| Rp. | ۵۳۶ |
| ₹ | ۱۰۶۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۸،۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# که ارمنستان ته په سفر ولاړئ، نو څه باید وکړئ؟

حميدالله حميدي

کله چې خبره د رخصتۍ راځي، نو ډېرى کسان هرو مرو د يوه بهرني هېواد د سفر په اړه فکر کوي. ايا تر اوسه مو د يوه ښايسته او داسې هېواد په اړه فکر کړى دى چې ورته سفر کول درته ارزانه تمام شي؟ بايد ووايم چې ارمنستان د خپل ۳۰۰۰ کلن تاريخ، تاريخي ځايونو او د سيل او چکر د ځايونو په درلودو سره درته تر ټولو ښه او مناسب ځاى دى. تر ټولو مهمه خبره دا ده چې دغه هېواد ته سفر کول د نورو هېوادونو په پرتله درته ارزانه پرېوځي. د ارمنستان انګليسي نوم (Armenia) دى، نو که کله ارمنستان ته د سفر موکه په لاس درغله، له دغو سيمو يې هرو مرو ليدنه وکړئ:

**۱- د ارارات غرونو ليدو ته ورشئ**

هېڅ امکان نه لري چې ارمنستان ته سفر وکړئ، پلازمېنې (اېروان) ته يې ورشى او د ارارات غرونه مو پام ور جلب نه کړي. په زړه پورې خو دا ده چې دا غرونه په هر فصل کې خپله ځانګړې ښکلا لري. دغه غرونه د ارمنستان لپاره په يوه سمبول بدل شوي دي. داسې وايي چې په منسوخ شوي اسماني کتاب انجيل کې هم د لوى توپان په داستان کې د ارارات غرونو يادونه شوې ده. دا هغه غرونه دي چې په نړۍ کې له لويو توپانونو او سېلابونو وروسته د نوح عليه سلام کښتۍ د ارارات غرونو پر سر ودرېده او له هغه ځاى څخه ببرته ژوندي پاتې شوي انسانان او ژوندي موجودات پر ځمکه خواره شول.

**۲- په سرچپه اسمان کې غرق شئ**

سرچپه اسمان يا د سوان سيند د دغه هېواد په يوه غرنۍ سيمه کې دى. کله چې د دغه سيند ترڅنګ کېنئ، فکر کوې چې اسمان سرچپه شوى دى. دا د ققفاز تر ټولو مشهور او ښکلى سيند دى. اوبه يې ښکلې او پاکې وي، خو يوازې په اوړي کې لږ ګرمېږي. په ارمنستان کې دغه سيند ته د ارمنستان سيند هم وايي چې د ډېرو غرونو په مينځ کې تېر شوى دى. کله چې د دغه سيند په څنګ کې روان ياست، وبه ګورى چې اوبه شېبه په شېبه تغير کوي، کله شنې، نيلي، لاجوردي او کله هم فيروزه يي رنګ خپلوي.

**۳- د ققفاز تر ټولو پخواني خواړه و ازموېئ**

که ارمنستان ته په سفر ولاړئ، نو د جنوبي ققفاز مشهور او پخواني خواړه مو له ياده ونه وځي. د دې سيمې خواړه له دې کبله خوندور او ځانګړى بوى لري چې تر ډېره پکې له طبيعي مسالو او بوټو څخه ګټه اخيستل کېږي. په ارمنستان کې په تېره بيا په پلازمېنه اېروان کې د پخوانيو سنتي رستورانټونو کاروبار لا هم ښه په درز کې روان دى. هغه کسان چې له نورو بهرنيو هېوادونو ارمنستان ته ورځي، نو هرو مرو د دغه هېواد د مشهورو خوړو خوند څکي. سپاس خورواتس يې يو ډول لوند کباب دى او ارمني کفته يې تر ټولو مشهور خواړه دي.



**۴- له ډول ډول مېوو او سبزيو يې خوند واخلئ**

اوبه او مرطوبه هوا، د لمر وړانګې او د ارمنستان ځانګړې خاوره د دې لامل شوې ده چې د دغه هېواد مېوې او سبزۍ خپل ځانګړى رنګ او خوند خپل کړي. که دغه هېواد ته په سفر ولاړئ، نو د طلايي زردالو خوړل مو هېر نه شي. د ارمنستان زردالو په ټوله نړۍ کې مشهور دي.

**۵- تر ټولو پاکې او صافې اوبه يې و څښئ**

ايا پوهېدئ چې ارمنستان د ټولې نړۍ په کچه پاکې، صافې او له هره اړخه ډاډمنې اوبه لري؟ د دې ټولو راز په دې کې دى چې دغه هېواد د اوبو لپاره تر ټولو پاکې چينې او سرچينې لري. د دغه هېواد په هره سيمه کې به مو واړه واړه ابشارونه او کوچنۍ کوچنۍ د اوبو چينې تر سترګو شي.

**په ارمنستان کې مشهور سوداګريز مرکزونه**

ډېرى هغه کسان چې د پيسو غم دومره ور سره نه وي، د سفر لپاره ارمنستان ټاکي؛ ځکه له يوې خوا دغه د سيل او چکر لپاره ښکلى ځاى او له بلې خوا ډېر په زړه پورې لوى، مشهور او مډرن سوداګريز مرکزونه لري. په دغو سوداګريزو مرکزونو کې نه يوازې دا چې هر ډول توکي پيدا کېداى شي، بلکې يوازې له ليدو يې هم انسان خوند اخيستى شي؛ ځکه ډېر ښايسته جوړ شوي دي. همدا لامل دى چې ارمنستان ته د ماډلانو هېواد هم وايي. بله دا چې ارمنستان د بېلابېلو چاکلېټو توليدوونکى هېواد دى. په دې ليکنه کې مو درته د ارمنستان مشهور سوداګريز مرکزونه در پېژندلي دي.

**۱- د دالما ګارډن سوداګريز مرکز**

هغه سوداګريز مرکز چې د دې ليکنې په لومړي سر کې ور باندې بحث کوو، د دالما ګارډن سوداګريز مرکز دى. دا په ايروان کې لومړنى سوداګريز مرکز دى چې په ۲۰۱۲ زېږديز کال کې د تاشير په نوم د يوه شرکت يا ډلې له خوا تاسيس شو او ډېر ژر د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ شو. دا په ارمنستان کې لومړنى لوى سوداګريز مرکز دى چې په لږ تر لږه ۵۰ زره متره مربع ځمکه کې جوړ شوى دى. دغه مرکز په خپل چوکاټ کې مغازې، رستورانټونه او تفريحي ځايونه لري چې د تفريحي ځايونو په درلودو سره بيا په ارمنستان کې دويم ځاى لري. د دالما سوداګريز مرکز ۱۱۶ مغازې چې بېلابېل برنډونه پکې پلورل کېږي، ۱۸ رستورانټونه، ٦ د سينما سالونونه او دغه راز د طلا او جواهراتو ډېرې نورې مغازې لري.

**۲- ايروان مال سوداګريز مرکز**

په ارمنستان کې تر دالما ګارډن سوداګريز مرکز وروسته بل لوى سوداګريز مرکز ايروان مال دى چې د ۲۰۱۴ زېږديز کال د فبرورۍ په ۲۱مه پرانيستل شو. په ارمنستان کې دغه دويم لوى سوداګريز مرکز د اروپا په کچه په معيارونو برابر دى چې پر بېلابېلو مغازو سر بېره پکې رستورانټونه او تفريحي ځايونه هم شته. دغه سوداګريز مرکز ځکه ډېر مشهور دى چې د نړۍ هر ډول برنډ پکې پيدا کېږي .

**۳- د ريو سوداګريز مرکز**

د ريو سوداګريز مرکز په ۲۰۱۷ زېږديز کال د نومبر په ۱۳مه د ارمنستان په پلازمېنه کې پرانيستل شو. دغه سوداګريز مرکز په اصل کې په يوه روسي سوداګر ساموئل کاراپتيان پورې اړوندېږي. د دغه سوداګريز مرکز ښېګڼه په دې که ده چې د مرکز دننه ډېر بانکونه، صرافۍ او د موټرونو پارکېنګونه لري. د ماشومانو لپاره د لوبو ځاى، سينما او تياتر برخه هم لري. تاسو کولى شى په دغو سوداګريزو مرکزونو کې د خپلې خوښې هر ډول توکي په ډېره مناسبه بيه واخلئ.

**۴- د روسيا سوداګريز مرکز**

د روسيا مال په ۲۰۱٦ زېږديز کال کې د مارچ په پنځمه پرانيستل شوى دى. دغه سوداګريز مرکز د ارمنستان د تيګران متز په جاده کې موقعيت لري چې د ارمنستان درېيم لوى سوداګريز مرکز بلل کېږي. دغه لوى سوداګريز مرکز په يوه ارمني سوداګر سيل کانسرن پورې اړوندېږي. دا سوداګريز مرکز، نه يوازې په خپل چوکاټ کې د طلا او جواهراتو لويې لويې مغازې لري، بلکې تفريحي ځايونه او ډېر رستورانټونه هم پکې شته .

**۵- د تاشير مال سوداګريز مرکز**


د تاشير مال سوداګريز مرکز هم د ۲۰۰۴ زېږديز کال د اکټوبر په لومړۍ پرانيستل شوى دى چې په هماغه لومړي سر کې د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ شو او ترمنځ يې ډېر مشهور شو. په دغه لوى سوداګريز مرکز کې هم ستاسو د خوښې هر ډول مشهور برنډ په اسانۍ سره پيدا کېداى شي. د دغه سوداګريز مرکز درې پوړه يوازې د اغوستونکو توکو لپاره ځانګړې شوي دي. د طلا او جواهراتو لپاره ځانګړې لويې مغازې لري. د تاشير سوداګريز مرکز په لوړو پوړونو کې بانکونو، صرافۍ، رستورانټونو او نورو د اړتيا وړ ځايونو ته ځاى ورکړل شوى دى. د پورته ختو اندېښنه در سره پيدا نه شي، يوازې د يوې بټنې په کېکاږلو سره د خپلې خوښې پوړ ته پورته او ښکته کېدلى شى.

## لويه څارنوالي: په فوټبال فدراسيون کې د جنسي ځورونې د راپور د څېړنې لپاره اروپا ته يو پلاوى لېږو

لويې څارنوالۍ د فوټبال فدراسيون د مرستيال د دندې د څنډ مودې د پاى ته رسېدو د خبر ترڅنګ ويلي، له ځينو ښځينه فوټبالرانو څخه جنسي ناوړه استفادې د راپور په اړه د يادې اداري پلاوي څو اروپايي هېوادونو ته سفر کوي.

دا په داسې حال کې ده چې شاوخوا دوه مياشتې مخکې ګارډين ورځپاڼې يو راپور نشر کړ چې د افغانستان د فوټبال فدراسيون ځينې مسوولين يې پکې د ښځو فوټبال د ملي ټيم له غړو څخه پر ناوړه جنسي ګټې اخيستو تورن کړي وو او له دغو تورونو وروسته د فوټبال نړيوال فدراسيون (فيفا) او د افغانستان لويې څارنوالۍ په دې تړاو څېړنې پيل کړې.

لويې څارنوالۍ د څېړنو په پيل کې د فوټبال فدراسيون د رييس کرام الدين کرام، د فدراسيون د مرستيال محمديوسف، د جنرال سکرتر علي رضا اقازاده، د ولايتونو له فوټبال فدراسيونونو سره د اړيکو د مسوول او د ګول ساتونکو د مسوول دندې وځنډولې او د فدراسيون له مرستيال پرته يې ټول ممنوع الخروج اعلان کړل، خو د لويې څارنوالۍ وياند جمشېد رسولي تېره ورځ په کابل کې يوې خبري ناستې ته ويلي، د ټاکل شوي پلاوي له ارزونو وروسته د فدراسيون د مرستيال محمديوسف کارګر د دندې



څنډ پاى ته رسېدلى او نوموړى کولاى شي خپلې دندې ته دوام ورکړي.

هغه زياتې کړې، د ښځو فوټبالرانو د جنسي ځورونې د ادعا په اړه د يادې اداري له خوا لا هم جدي څېړنې روانې دي.

رسولي ويلي، تر اوسه د فوټبال فدراسيون له ۳۰ غړو او فوټبالرانو څېړنې شوې او په کابل کې تقريباً د بشپړېدو په حال کې دي.

د نوموړي په خبره، دا چې قضيه بيرونى اړخ لري، نو لازمه ده چې د زياتو څېړنو لپاره يو پلاوى بهر ته ولاړ شي، څو په حضوري بڼه د دې قضيې له اړوندو بنسټونو او کسانو سره مرکې وکړي.

نوموړي ياد اروپايي هېوادونه نه دي مشخص کړي، خو ويلي يې دي، لويې څارنوالۍ د بهرنيو چارو له وزارته غوښتي چې اروپا ته د دغه پلاوي د سفر زمينه برابره کړي. د ده په خبره، دغه پلاوى به ډېر ژر سفر وکړي او د ۲۰ ورځو په جريان کې به خپلې څېړنې بشپړې او ببرته به هېواد ته راستون شي.

هغه زياته کړې، دغه پلاوى به له هغو متضررينو په ځانګړې توګه فوټبالرې خالدې پوپلزۍ سره چې له افغانستان څخه بهر ژوند کوي، مرکه وکړي څو د هغې په اساس قضيه مستنده کړي.

مسير ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزى
**ايډيټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** محمد نظيم سمون، جاويد کوټوال او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer Daily

New Vision, New Journey








دوشنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې اتمه | د ۲۰۱۹ د جنوري ۲۸مه | دویم کال | ۳۲۵مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily



| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار |
|---|---|---|---|---|
| ٦ | ۲۰ | ۱۷ | ۱٤ | ۱۸ |
| ۸- | ۱۰ | ۲ | ۵ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:٤۳ | لمر ختل ۰۷:۰۸ | ماسپښين ۱۲:۲۳ | مازيگر ۰٤:۰۱ | ماښام ۰۵:۳۸ | ماخوستن ۰۷:۰٤

## نړۍ




## کرزی: گفت‌وگوهای صلح باید با برقراری آتش‌بس همزمان باشد



حامدکرزی، رئیس‌جمهور پیشین کشور از پیشرفت‌ها در گفت‌وگوها میان طالبان و زلمی خلیلزاد استقبال کرده و گفته است: «مذاکرات صلح باید با استقرار آتش‌بس و پایان دادن به خون‌ریزی در افغانستان همزمان باشد».

در خبرنامه‌یی که از سوی دفتر آقای کرزی دیروز به رسانه‌ها فرستاده شده، هم‌چنان آمده‌است: «تأمین صلح پایدار در افغانستان زمانی تحقق خواهد یافت که محصول مذاکرات و توافق میان خود افغان‌ها بوده و نتیجه گفت‌وگوهای صلح یک افغانستان متحد، دارای وحدت ملی، با حاکمیت عام و تام، استقلال کامل و رو به پیشرفت و ترقی باشد».

این درحالی است که زلمی خلیلزاد، نمایندهٔ ویژهٔ امریکا برای صلح افغانستان پس از ختم نشست شش روزه با نماینده‌گان طالبان در قطر، گفته است که گفت‌وگوها با طالبان پیشرفت‌هایی داشته است.

در همین حال، تیم انتخاباتی «صلح و اعتدال» به رهبری محمدحنیف اتمر نیز از پیشرفت گفت‌وگوها با طالبان استقبال کرده و بر بین‌الافغانی بودن این گفت‌وگوها تأکید کرده‌است.

در خبرنامه‌یی که از سوی این تیم انتخاباتی به رسانه‌ها فرستاده شده، آمده است: «ما همچنان بر اهمیت برقراری آتش‌بس همه جانبه به مثابه قدم اول در راستای موفقیت پروسه مذاکرات و برقراری صلح تأکید می‌کنیم».

تیم انتخاباتی صلح و اعتدال هم‌چنان گفته است که آنان از موقف‌گیری حکومت افغانستان نسبت به تلاش‌های موجود صلح مطمئین نیستند. به گفته او: «به باور ما حکومت افغانستان باید از تلاش‌های جاری با جدیت حمایت نموده و در راه موفق ساختن پروسهٔ صلح و ختم جنگ قدم‌های مثمر بردارد».


CoAR 1989

**هماهنگی کمک ها برای افغانها**

**Coordination of Afghani Relief**

**اعلان داوطلبی**

موسسه هماهنگی کمک ها برای افغان ها (CoAR) به کمک مالی Save the children تصمیم دارد که به شاگردان متأثر از جنگ ولایت کندز، کیت های شاگردان و البسه خریداری نماید. انعده شرکت های لوژستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط ، لایسنس مدار اعتبار باشند لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (2019/01/28 ) الی (2019/02/08) به دست آورد.

افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ (2019/02/08) به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ۱۶۷٦، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.

procurement@coar.org.af

CoAR 1989

**هماهنگی کمک ها برای افغانها**

**Coordination of Afghani Relief**

**اعلان داوطلبی**

موسسه هماهنگی کمک ها برای افغان ها (CoAR) به کمک مالی Save the children تصمیم دارد که به شاگردان متأثر از جنگ ولایت کندز، کتابهای صنف دوم را تهیه نماید. انعده شرکت های لوژستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط ، لایسنس مدار اعتبار باشند لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ ( 2019/01/28 ) الی (2019/02/08) به دست آورد.

افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ (2019/02/08) به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ۱۶۷٦، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.

procurement@coar.org.af

CoAR 1989

**هماهنگی کمک ها برای افغانها**

**Coordination of Afghani Relief**

**اعلان داوطلبی**

موسسه هماهنگی کمک ها برای افغان ها (CoAR) به کمک مالی Save the children تصمیم دارد که به افراد متأثر از جنگ ولایت کندز، کیت های هایجین خریداری نماید. انعده شرکت های لوژستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط ، لایسنس مدار اعتبار باشند لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ ( 2019/01/28 ) الی (2019/02/08) به دست آورد.

افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ (2019/02/08) به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ۱۶۷٦، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.

procurement@coar.org.af